# څه شی دی او څه فایدې لری GPRS




GPRS (General Packet Radio Service) ستاسي دموبايل سټه GSM ته يو Packet Switchedوراضافه کوي ددغه ټکنالوجي دکارولو دپاره باید PDA یا موبایل ولری چي GPRS حمایه کړي او هغه شرتکت ته لاس رسی پیداکړي کوم چي د GPRS خدمتونه وړاندي کوي .

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

GPRSدکارونکو دپاره دری فایدې لري اول داچي تاسي کولای سئ چي د GPRS په مرتسه داینټرنیټ سره وصل سي او دهرځل وصلېدو دپاره تاسي اړ نه یاست چي دمربوطه شرکت سره تماس ونیسی. دوهم داچي GPRS دموبایل ترمعمولي سرعت څو چنده زیات سرعت لري. دموبایل معمولي سیګنالونه حداکثر 9.6 کیلو بایټه په یوه ثانیه کي سرعت لري او یاد HSCSD (High-Speed Circuit Switched Data)سرعت په یوه ثانیه کي حد اکثر 1.44 کیلو بایټه دي پداسي حال کي چي GPRSپه یوه ثانیه کي د 40 کیلوبایټو سرعت په لرلو سره کولای سي چي په اسانی دانټرنیټ سره وصل سي چي کم ترکمه دعادي سرعت څلور برابره کیږي .

دریمه فایده یې دادہ چي وړاندي کونکی شرکت یوازي او یوازي د ډیټا داستولو او راوړلو پراساس ستاسو څخه افغانی اخلي پدې معنی چي که چیري تاسي ټوله ورځ دانټرنیټ سره وصل یاست پرتاسي کوم مصرف نه راځي خو که چیري تاسي کوم پیغام استوی نو بیا پرتاسي مصرف نه راځي .

GPRS دڅه شي دپاره کاروو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

بریښنالیکونه: تاسي کولای سئ چي هروخت خپلو دوستانو ته په کمو پیسو پیغامونه واستوی .

مخامخ خبري او باندار: دانټرنیټ سره تړاو تاسوته دا زمینه برابروي چي د IRQ، IC9، AOL messenger، MSN messenger، Yahoo Messenger او Skype دلاري دخپلو دوستانو سره مخامخ خبري، لیکل او باندار وکړئ .

دMMS (Multimedia Messaging Service):
دMMS لاري کولای سي چي خپلو دوستانو او ملګروته عکسونه، ږغونه او ویډیو واستوی چي داد SMS یو پرمختللی شکل دی .

د GPRS دنده :

که څه هم GPRS داطلاعاتو دانتقال سرعت یه ثانیه کي تر IIS پوري رسوي خو په عمل کي یې سرعت په ثانیه کي 40 کیلو بایټه دی .

GPRS څلور ډوله کوډونه لري CS1, CS2, CS3, CS4 هریو ددغو کوډونو څخه یه ثانیه کي د 21,4 کیلو بایټه اطلاعاتو داستولو توان لري او پدې 21.4 کیلو بایټه کي یې یوه برخه داطلاعاتو دپوره رسولو پخاطر ورسره یو ځای سویدي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

CS1کوډ یوازي 9 کیلوبایټه داطلاعاتو استولو لپاره وکاروی نور ټول داطلاعاتو دصحیح او پوره استولو لپاره کاروی .

CS2او CS3 ډېر سرعت لري او 13, 4 یا 15, 6 کیلو بایټه اطلاعات په یوه ثانیه کي لیږي .

اوپه CS4 کي داطلاعاتو دانتقال سرعت واخیرني حد ته رسیږي پدې معنی چي ټول 21.4 کیلو بایټه ټول دډېټا داستولو لپاره کاروي .

د GPRS سته شرکتونه یوازي CS2 او CS1 دکښته سرعت په کارولو سره وړاندي کوي او په لازم وخت کي یې یو دبل پرځای کاروي.

Mohammad Noor
mnoor.h444@gmail.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**